**<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>**

**د سوډان پېښې**

**یوازې خلافت خلک د یوه امت په توګه راټولی شي**

**(ژباړه)**

د بنو عامر او نوبیا د قبیلو تر منځ یو ځل بیا هغه مهال جګړه پیل شوه، کله چې د واکمنې شورا یوه پلاوي څو ساعته وړاندې د دواړو لوریو تر منځ د یوې کمزورې هوکړې خبر ورکړ. د نښتو په پایله کې د شمالي سوډان لسګونه کورونه او دوکانونه وران شوي دي. له دواړو لورو څخه ۲۳ تنه مړه او ۲۴۰ نور ټپیان شول. (سوډانۍ ورځپاڼې ۲۰۱۹/۰۸/۲۴)

پیغمبر صلی الله علیه وسلم د مسلمانانو تر منځ د شخړې په اړه ګواښ کړی او په وداع حج کې یې داسې وفرمایل:

**«لا تَرْجِعُوا بَعْدِي كُفَّارًا يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ»**

***ژباړه:*** *له ما څخه وروسته مه کافر کېږئ، یعنې یو بل مه وژنئ.*

هغه صلی الله علیه وسلم د قوم او نژاد پر سر جګړه منعه کړې؛ ځکه مسلمانان په فتنه کې اچوي. په دې جګړه کې به دواړه لوري یعنې قاتل او مقتول دوزخ ته ځي. هغه صلی الله علیه و سلم فرمايي:

**«إِذَا الْتَقَى الْمُسْلِمَانِ بِسَيْفَيْهِمَا فَالْقَاتِلُ وَالْمَقْتُولُ فِي النَّارِ»**

***ژباړه:*** *که چېرې دوه مسلمانان یو له بل سره توره په لاس مخ شي، نو وژونکی او وژل شوی دواړه به دوزخ ته ځي.*

سېکولر رژیم چې د هېواد مشري کوي؛ د قبیلوي، نژادي او سیمه ییزې سختدریځۍ اورونه بلوي. لکه څنګه چې د اساسي قانون په ٦٥ ماده کې د فرهنګي او نژادي ګروپونو تر سرلیک لاندې یادونه شوې: «د دغو ډلو غړي حق لري، چې پر خپلو باورونو عمل وکړي؛ خپل دین او فرهنګ وساتي او خپل ماشومان د دغه فرهنګ او عقیدې پر اساس وروزي» په دې توګه مسلمانان له یو بل څخه لرې ساتي او اجازه نه ورکوي چې د ورونو په څېر ژوند وکړي.

**﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ﴾**

[حجرات:۱۰]

***ژباړه:*** *ټول مومنان سره ورونه دي.*

انتقالي شورا چې د دولت سمبول دی، د نژاد او قوم پر اساس جوړه شوې ده. کله چې د سېکولريزم تر واک لاندې د دولت حالت داسې وي، نو له شک پرته چې د ناروا وينو ويالې به بهيږي. دولت په نورو برخو کې هم خپل واک او صلاحيت نشي کارولی، چې د داسې پېښو مخه ونيسي؛ هغه پېښې چې لمبې يې د لوی اختر له لومړۍ شپې راهيسې تر اوسه دوام لري!

د دغو پېښو اساسي حل لاره د نبوت پر تګلاره د خلافت تاسيس دی؛ ځکه اسلام، دولت د خلکو د وينو او عزت ساتونکی ګرځولی دی. لکه څنګه چې د ټولو جګړو لپاره ويل شوي:

**«الإِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ وَيُتَّقَى بِهِ»**

***ژباړه:*** *امام هغه ډال دی، چې تر شا يې جګړه کېږي او ځانونه پرې ساتل کېږي.*

خلافت د اسلام د پلي کېدو لپاره يوازنی دولت دی، چې د بېلابېلو نژادونو او قبيلو خلک په يوه امت کې راټولوي او دا امت به د بشريت تر ټولو غوره امت وي. خلافت وړاندې هم دغه کار کړی دی؛ په داسې حال کې چې بل هېڅ دولت تر دې مهاله نه دی کړی. همدغه دولت اوسمهال هم د سوډان په ګډون له ټولو اسلامي خاورو حتا ټولې نړۍ څخه د سختدريځۍ او نژاد پالنې سرطاني ريښې ايستلی شي. په داسې حال کې چې په سېکولريزم کې دا يوازې يوه ادعا پاتې شوې ده.

**ابراهيم عثمان (ابو خليل)**

**د حزب التحرير-ولايه سوډان رسمي وياند**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۰/ ٦٨**

**۱۴۴۰هـ.ق کال، د ذولحجې ۲۴مه**

**۲۰۱۹م کال، د اګېسټ ۲۵مه**